د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# اونیز راستنېدنه عودت هفته نامه

(۸۰) لړم۱۴۰۴: شماره (۸۰) عقرب ۱۴۰۴ : صفحه اول: لومړی مخ




## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت اړوند له غصب څخه د راګرځول شویو ښارګوټو په اړه ناسته د محترم مولوي عبدالکبیر په مشرۍ وشوه

په دې ناسته کې چې د کډوالو چارو وزارت مالي او اداري معین شیخ کلیم الرحمن فاني او څو تنو مرکزي ریيسانو برخه درلوده، د اسلامي امارت د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون لخوا د قضایي پړوانو تر بشپړېدو وروسته د مهاجرینو د ښارګوټو د راګرځول شویو ځمکو په اړه معلومات شریک شول او یادونه وشوه، چې په تېرو دوو لسیزو کې د مهاجرینو د ښارګوټو ځینې استوګنیزې نمرې نامستحقو کسانو ته وېشل شوې او ان په ځینو ولایتونو کې د کډوالو ښارګوټي غصب شوي، چې د تثبیت او له غاصبانو یې د راګرځولو چارې رواني دي.

د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر د کډوالو د ښارګوټو د تفصیلي پلانونو پر ژر بشپړېدو په ټینګار سره وویل، چې د مهاجرینو د استوګنیزو نمرو په وېش کې دې اصول عملي کړل شي او له نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ دې، هغو کورنیو ته د تخلیې په موخه کافي وخت ورکړل شي، چې د مهاجرینو په ښارګوټو کې ژوند کوي خو د اړتیا وړ اسناد نه لري او مستحق نه دي.

د ناستې په پای کې محترم وزیر یوې کمېټې ته دنده وسپارله، تر څو د ځمکو د غصب د مخنیوي له کمېسیون سره د غصب شویو ښارګوټو په اړه همغږي ډېره کړي او همدارنګه هغه ښارګوټي له نړدې وارزوي چې ځمکې یې غصب شوې دي.



## وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان با والی ولایت نورستان دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان با قاری زین العابدین عابد والی ولایت نورستان دیدار کرد.

در این دیدار وضعیت عودت‌کنندگان در نورستان مورد بحث و بررسی قرار گرفت، والی نورستان از محترم وزیرامور مهاجرین درخواست کرد تا به پیشنهادات مهاجرین و عودت‌کنندگان آن ولایت رسیدگی کند.

محترم مولوی عبدالکبیر با اشاره به مشکلات عودت کنندگان و بیجاشدگان داخلی، گفت: امارت اسلامی منابع مالی کافی را به این بخش‌ها اختصاص داده است و افزود: قبل از فرا رسیدن زمستان به نیازمندان رسیدگی خواهد شد.

محترم وزیر امور مهاجرین خاطرنشان ساخت که پیشنهادات مهاجرین نورستان را در برنامه کاری خود خواهند گنجانید و از همکاری اش اطمینان داد.



## په کډوالو چارو وزارت کې د همکارۍ یو هوکړه لیک لاسلیک شو

په کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت کې د کنسرن جهاني موسسې سره د ۱٦۵ زره ۱۷۵ امریکایي ډالرو په ارزښت یو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د هوکړه لیک له مخې به یاده موسسه دغه پیسې په تخار ولایت کې پر ۴۱۰ راستنو شویو او کوربه ټولنو باندې د نغدي مرستو په برخه کې په لګښت رسوي.

## سه باب مکتب در ولایت زابل به بهره برداری سپرده شد

سه باب مکتب در محلات خواریان، باوری و کاکران در مرکز ولایت زابل پس از ساخت، با حضور مقامات محلی آن ولایت افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مولوی عبدالغنی احسان آمر مهاجرین ولایت زابل ساخت مکاتب یاد شده را گامی ارزشمند و مؤثر در جهت گسترش آموزش، فراهم آوردن محیط آموزشی برای کودکان خانواده‌های مهاجر و برگشت کننده گان و تربیت نسل آینده دانسته و ازکمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان به خاطر همکاری و تلاش‌های مستمرشان تشکری کرد.

نماینده کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامور پناهنده گان سخنرانی نموده گفت: مکاتب یاد شده به ارزش یک میلیون ۲۴۳ هزار دالرامریکایی با حمایت مالی کمیشنری ساخته شده است که هرمکتب شامل ۱۲ و ۱٦ صنوف درسی، کتابخانه، اتاق‌های اداری، تشناب های مجهز، امکانات ورزشی و تجهیزات آموزشی لازم را دارا میباشد.



## په پروان ولایت کې د راستنېدونکو د وضعیت په اړه د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د پروان ولایت د کډوالو او راستنېدونکو ریاست او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ استازو تر منځ د راستنېدونکو د وضعیت په اړه د همغږۍ غونډه جوړه شوه.

په غونډه کې د راستنېدونکو پر بنسټیزو ستونزو او ننګونو، لکه: د ژوند لومړنیو اسانتیاوو ته د لاسرسۍ نشتوالی، د کار او مسلکي روزنې د فرصتونو کموالی، د مناسبې سرپناه نشتوالی او د اړینو زیربناوو نشتوالي په اړه بحث او نظرونه تبادله شول.

د پروان د کډوالو چارو ریاست استازو د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ څخه د دې اړتیاوو په پوره کولو کې د لا زیاتې توجو غوښتنه وکړه.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ استازو د همکاریو دوام او د راستنېدونکو د بیا مېشتېدنې له پروسې څخه د هر اړخیز ملاتړ پر دوام ټینګار وکړ.



## د هېواد په ۵ ولایتونو کې تر ۴زرو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

په کابل، جوزجان، بلخ، بادغیس او بغلان ولایتونو کې څلور زره او ۴۴ راستنو شویو، بېځایه شویو، اړمنو کورنیو او کوربه ټولنو ته نغدي او خوراکي مرستې، کمپلې، روغتیایي کڅوړې او خېمې ووېشل شوې.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د دویمي واحدونو د راپوورنو له مخې، په کابل کې ۲۰۳ کورنیو ته دوه میلیونو ۳۱۹ زره ۴۰۰ افغانۍ او یوه خېمه، په جوزجان کې ٦۷ کورنیو ته ۹ میلیونه ۹۲ زره او ۸۲۴ افغانۍ، په بلخ کې ۱۵۰۰ کورنیو ته پینځه کمپلې، په بادغیس کې ۲۷۴ کورنیو ته ۸ میلیونه ۴۲۷ زره ۸۲۷ افغانۍ او روغتیایي کڅوړې، په بغلان کې ۲ زره کورنیو ته پینځه ډوله خوراکي توکي د همکارو او خیریه بنسټونو له لوري د یاد وزارت د اړوند ریاستونو تر پېژندنې وروسته ووېشل شوې.

د یو بل خبر له مخې، د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د یاد وزارت تر پېژندلو وروسته د همکارو بنسټونو له لوري ۲۸۹۴ کورنیو ته ۸ میلیونه ۳۹۲ زره او ٦ سوه افغانۍ او د ماشومانو او میندو لپاره د خوراکي توکو کڅوړې، په سرپل کې د زلزلې له امله پینځو زیانمنو کسانو ته ۵۰ زره افغانۍ، په ارزګان کې ۳۵ تنو ۴۲۰ زره افغانۍ ورکړل شوې.

همدارنګه د کابل د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ د ګروه تحقیق و دفاع حقوق بشر(HRRAC ) موسسې له لوري په کابل کې ۳۵ تنو ته د حقوقي مرستو او معلوماتي مشورو ورکولو برنامه تر سره شوې. چې د معلوماتي مشورو او حقوقي مرستو ( ملکیت حق) په اړه هغوی ته لازم پوهاوی ورکړل شو او هر کس ته د ټرانسپورټ پیسې، قرطاسیه او د غرمې ډوډۍ ووېشل شوه.